# ښۀ ملګري

کور نمبر 10 او کور نمبر 11 دیوال په دیوال وو. سپوږمۍ نومې پیشو په لسم نمبر کور کښې وسېدله. جېکی نومې سپے په یو لسم نمبر کور کښې میشته وۀ. د دواړو کورونو ترمېنځه یو دیوال وۀ. سپوږمۍ به په دغه دیوال ناسته وه. جېکی د دیوال ته نۀ شۀ ختلے. ځکه به هغه له غُصه ورتله. کله چې به ئې سپوږمۍ پیشو په دیوالۀ لیدله نو غپل به ئې. کله چې به د جېکی مالک هغه چکر له وویستۀ نو جېکی به د لسم نمبر کور د پاټک نه دننه کتل. کۀ مانو به هلته ښکاره شوه نو دۀ به ښۀ وغپل.

دواړو بۀ هر وخت جنګ جګړې کولې. بیا یوه ورځ یوه خاص خبره وشوه. د سپوږمۍ بچې وشول. درې واړۀ واړۀ سپین او توربچي. د پیشو بچي چې کله پېدا شي نو د هغو سترګې نۀ غړېږي. یوه هفته پس غړېږي. کله چې ګرځېدل شروع کړي نو په قلاره ګرځي او په تلو تلو کښې پرېوځي راپرېوځي.

د سپوږمۍ د وړوکي بچي یو غوږ تور وۀ او بل غوږ سپین. دهغه نوم وۀ ستورے.

یوه ورځ ستورے د پاټک نه راووتۀ او پارک ته لاړۀ. په پارک کښې یو ډنډ وۀ. ستوري ولیدل چې یوې چرچڼې د ډنډ نۀ اوبۀ وڅښلې والوته. ستوري یوه د ګبین مچۍ هم ولیده. د ګبین مچۍ په اوبو د پاسه بنګېده را بنګېده. ستوري یوه چیندخه هم ولیدله. چیندخې د ډنډ نه وچې زمکې ته ټوپ کړل. ستورے د اوبو خوا له لاړۀ. هلته ئې پښه وخوئېدله او نېغ اوبو ته پرېوت.

د پیشـوګانو اوبـهٔ نـهٔ وي خوښـېږ. دوي لـهٔ لامبـو هـم نـهٔ ورځـي. سـتورے یـو وړوکـے پیشـو وهٔ. هغـه پـه اوبـو کښـې لاس پښـې وهـل. د لامبـو و هلـو کوشـش ئـې کـوو. دغـه وخـت جېکـی د ډنـډ خـوا تـه راورسـېدهٔ. سـپي لامبـو وهلـے شـي. ځنـاور هـم لکـهٔ زمـونږه ماشـومان پـه تکلیـف کښـې نـهٔ شـي لیـدلے. جېکـی اوبـو تـه ورټـوپ کـړل. هغـه سـتورے د ځـټ نـه ونیـوهٔ او د ډنـډ نـه ئـې بهرتـه راوویسـتـهٔ. سـتورے پـه زمکـه پرېـوت. د یخنـۍ نـه شوشـکېدهٔ. دغـه وخـت سـپوږمۍ هـم پـه منـډه منـډه راورسـېده . هغـې ولیـدل چـې جېکـی د ډنـډ خواتـه ناسـت دے. سـتورے ورسـره خـوا کښـې ناسـت دے. جېکـی لګیـا دے سـتورے ځټـي. او سـتورے د جېکـی د غـوږ سـره لـوبې کـوي. د هغـې ورځـې نـه د سـپوږمۍ او د جېکـی جګـره ختمـه شـوه. بیـا بـه هـم دواړو د یـو بـل سـره لـوبې نـه کـولې خـو سـپوږمۍ او جېکـی ښهٔ ملګري شول چې کله به هم یو ځائے شول نو لو بې بهٔ ئې کولې.

آمنه ظفر